د شبِ مِعراج د اِجتماع بیان

د 16 جنورى، کال 2026ء بمطابق:
27 رجب شریف، کال 1447ھ

# د مِعراج

## د سفر واقعات



د شبِ مِعراج د اِجتماع بیان

(د 16 جنورۍ، کال 2026ء بمطابق: 27 رجب شریف، کال 1447ھ (د جُمعې او د خالي ترمینځه شپه)

# د مِعراج د سفر واقعات

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د مِعراج د سفر یو حِکمت
- د حبیب او د خلیل فرق
- وړوکے کاڼے او غټ غوئي
- د عرش په نُور کښې رانغښتلے شوے اِنسان

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ؕ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ الله    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ الله    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ الله

نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د الله پاک اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

كُلُّ كَلَامٍ لَا يُذۡكَرُ اللهُ تَعَالٰى فِيۡهِ فَيُبۡدَاُ بِهٖ وَبِالصَّلَاةِ عَلَيَّ فَهُوَ مَمۡحُوۡقٌ مِنۡ كُلِّ بَرَكَةٍ

ترجمه: هره هغه خبره کومه چې د الله پاک د ذِکر او پهٔ ما باندې د درود وئیلونه بغیر شروع کړے شي هغه د هر برکت نه محرومه او خالي ده۔ [1]

نبی کی شان میں ہو جس قدر درود پڑھو | محبّو! پاؤ گے جنّت میں گھر ، درود پڑھو
خدا تو بھیجے ہے صَلُّوْا وَ سَلِّمُوْا کا خطاب | تم ایسے بیٹھے ہو کیوں بے خبر، درود پڑھو
جو اپنے کاموں کا انجام نیک چاہتے ہو | ہر ایک کام میں تم پیشتر، درود پڑھو
نبی کے صدقے تمہاری مُراد ہو حاصِل | دُعا کے اوّل و آخر اگر درود پڑھو
ہزار درد کو یہ اِک دوا کفایت ہے | جو پیش آئے ذرا بھی خطر، درود پڑھو [2]

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب!    صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] … القول البديع، صفحه:244۔
[2] … نورِ ایمان، صفحه:56–57 ملتقطاً۔

# د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي: **اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات** د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے- [1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښه ښه نِیّتونه اوکړو: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به تول بيان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښينم ❁ ښه پهٔ توجُّه به بيان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** نن د **رجب شريف** اوؤيشتمه [27] شپه ده، دا هٔغه مبارکه شپه ده ❁ پهٔ کومه شپه چې جَنَّت ښکلے کړے شو ❁ پهٔ عرش کښې خوشحالي وې ❁ پهٔ زمکه انوار راوريدل ❁ هُم پهٔ ننۍ شپه حورې او غِلمان او فرښتے زما د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هرکلي د پاره پهٔ صفتونو کښې ودريدل ❁ الله پاک پهٔ خپل حبيب، امام الانبيا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د عرش او کرسۍ سيل اوکړو، جَنَّت يې ورته وښودو او **مَاشَآءَ الله!** سَدره او لامکان، بيا يې د هٔغه ځائے نه هم مخکښې خاص قرب ته وبللو، د کلام کولو سعادت يې ورعطا کړو او **سُبْحٰنَ الله!** پهٔ محبوب مصطفٰے، سردارِ انبيا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې يې عين د بيدارۍ پهٔ حالت کښې، د سر پهٔ سترګو خپل ديدار هم اوکړو-

ہیں صَف آراء سب حُور و ملک اور غِلماں خُلد سجاتے ہیں
اِک دُھوم ہے عرشِ اعظم پر مہمان خدا کے آتے ہیں
ہے آج فلک روشن روشن، ہیں تارے بھی جگمگ جگمگ

---

[1] ... بخاري، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1 ـ

محبوبِ خُدا کے آتے ہیں، محبوبِ خُدا کے آتے ہیں
ہے خُلد کا جوڑا زیبِ بدن، رَحمت کا سجا سہرا سَر پر
کیا خوب سُہانا ہے منظر، معراج کو دولہا جاتے ہیں( 1 )

## د دُنیا د ټولو نه اوږد---! خو د ټولو نه مختصر سفر

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زمونږه او ستاسو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج سفر د دُنيا د ټولو نه اوږد او ډېر مختصر سفر دے- دا مبارک سفر اوږد خو دومره دے چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ❁ د مکے مکرمې نه روان شو ❁ مسجدِ اقصیٰ ته يـې تشريف يوړلو ❁ بيا د هُغه ځائے نه وړومبي اسمان ته ❁ بيا دويم ❁ دريم ❁ څلورم ❁ پينځم ❁ شپږم ❁ او اووم اسمان ته لاړو، د هلته نه يـې سِدرَةُ الْمُنتَهیٰ ته تشريف يوړلو ❁ بيا د هُغه ځائے مقامِ مُستویٰ ❁ بيا عرشِ عُلیٰ ❁ بيا يـې د هُغه ځائے نه مقامِ دَنیٰ (يعني لامکان) ته تشريف يوړلو- دا په لکونو کلوميټره سفر دے- بلکې د اسمانونو چې کوم سفر دے، په سائنس کښې د دې پيمائش د رڼا په رفتار سره کيږي- د سائنسي تحقيق مطابق دا وخت په کائنات کښې د ټولو نه زيات رفتار د رڼا دے- رڼا په يو سيکنډ کښې 3 لاکهه کلوميټره مزل کوي او د نمر د رڼا زمکې ته په رارسيدو کښې 8.3 منټه لګي، يعني د نمر نه د زمکې پورې فاصله 14 کروړه 94 لاکهه کلوميټره ده، بيا نمر هم د وړومبي اسمان نه ډير ښکته دے، اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ❁ د زمکې نه د سِدرَةُ الْمُنتَهیٰ فاصله د 50 زره کاله په مزل ده ❁ د دې نه پس مُستَویٰ ❁ د هغې نه پس الله پاک ته معلومه ده ❁ د هغې نه پس د عرش 70 حجابونه دي ❁ د هر يو حجاب نه د بَل حجابه پورې 500 کاله فاصله ده- (2) دا ټوله 35

---

1 ...وسائلِ بخشش، صفحه: 286، 287 ملتقطاً۔
2 ...ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه: 439۔

زره کاله فاصله شوه، 35 زره کاله لا ره دا، 50 زره کاله لا ره د زمکې نه د سِدرَةُ المُنتهیٰ پورې دا ټوله 85 زره کاله فاصله شوه ✿ بیا د **سِدرَةُ المُنتهیٰ** نه د عرش د حجابونو پورې څومره فاصله ده دا چا ته معلومه نۀ ده- حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عرش نه مخکښې د کوم ځائے پورې تشریف یوړلو، د دې نه هم څوک خبر نۀ دي، غرض دا چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دومره پۀ زرګونو لکونو کاله لرې لاړو او واپس یــې هم تشریف راوړلو- غرض دا د دې سفر اوږد والے دے چې دومره اوږد سفر کوم چې څو کروړه کلو میټره دے- بیا د دې سره ډیره د حیرانتیا خبره ده چې دا د دُنیا د ټولو نه اوږد سفر ډیر مختصر هم وو، نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لامکان ته تشریف یوړلو، بیا یــې واپس هم تشریف راوړو او وخت څومره تیر شوے وو؟ **یو څو سیکنډه، بستره مبارکه یــې لا ګرمه وه، د دروازے کُنډه لا خوزیدله-**

تفصیل سے کی سیر مگر اِس پہ یہ طُرّہ
اِک پل میں یہ طے ہو گیا رستہ شبِ معرِاج
زنجیر درِ ہِلتی کی پاک ہوئی پائی
اور گرم تھا وہ بسترِ اعلیٰ شبِ معرَاج[1]

یو شاعر دلته ډیره ښکلې خبره کړې ده، لیکلي یــې دي:

رُک گئی ہے آج نبضِ جہاں
اُن کی ہستی نکل گئی ہو گی

**وضاحت:** اصلي خبره دا ده چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کائنات رُوح دے، رُوح چې لاړ شي نو وجود ودریږي، دغه شان چې کله رُوحِ کائنات، فَخرِ موجودات صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کائنات نه ووتو او د لامکان طرف ته یــې تشریف یوړلو

---

[1]... قبالۂ بخشش، صفحه:126۔

نو کائنات ودریدو، هر څيز ودریدو، بیا چې کله رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واپس تشریف راوړو نو کائنات بیا ژوندے شو او هر څيز بیا حرکت شروع کړو-

وہ جو نہ تھے تو کچھ نہ تھا، وہ جو نہ ہوں تو کچھ نہ ہو
جان ہیں وہ جہان کی جان ہے تو جہان ہے[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د آیتِ مِعراج وضاحت

پهٔ 15 سیپاره سورهٔ بني اِسرائیل، آیت: 1 کښې الله جَلَّ شَانُه فرمائي:

سُبْحٰنَ الَّذِيْۤ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا الَّذِيْ بٰرَكْنَا حَوْلَهٗ لِنُرِيَهٗ مِنْ اٰيٰتِنَا

(پارہ:15، سورۂ بنی اسرائیل:1)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: پاک دے هغه ذات چا چې پهٔ خپل خاص بنده د شپې پهٔ څهٔ حِصّه کښې د مسجدِ حرام نه مسجدِ اقصیٰ پورې سیل وکړو د کوم نه ګیر چاپیره چې مونږه برکتونه کیښودي دي د پاره د دې چې مونږه هغهٔ ته خپلې عظیمې نخښې وښایو-

د معراج د سفر درې حصې دي: (1): فرشي مِعْراج کوم چې د مکے مکرمې نه د مسجدِ اَقصیٰ پورې دے دې ته اِسراء وئیلے شي (2): اسمانی مِعراج کوم چې د مسجدِ اَقصیٰ نه د سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰى پورې دے، دې ته مِعْراج وئیلے شي (3): د دې نه پس دے لا مکاني مِعراج کوم چې د سِدره نه مخکښې د لا مکانه پورې دے، دې ته عُرُوج وئیلے شي- د پینځلسمې

[1]... حدائقِ بخشش، صفحه:178-

سيپارې، د سورۀ بني اسرائيل دا کوم آيت چې اوس مونږ واوريدو، په دې مختصر شان آيت مبارک کښې د معراج د سفر د دې دريو وارِو حصو ذِکر دے۔

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې آيت لاندې فرمائي: په دې آيت کښې د بٰرَكْنَا حَوْلَه پورې د فرشي مِعراج يعني د بيتُ المُقدس پورې ذِکر دے او

| | |
|---|---|
| لِنُرِيَهٗ مِنْ اٰيٰتِنَا ؕ (پاره:15، سورۀ بنی اسرائیل:1) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: مونږه هغهٔ ته خپلې عظيمې نخښې وښايو۔ |

کښې د اسماني معراج ذِکر دے (چې مونږ په خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مِعراج اوکړو د پاره د دې چې هغه ته په زمکه او اسمان وغيره کښې خپلې نخښې وښايو)، او د آيت په دې حصه:

| | |
|---|---|
| اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ۝ (پاره: 15، سورۀ بنی اسرائیل:1) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه هم هغه اوريدونکے، ليدونکے دے۔ |

کښې د لامکاني مِعراج ذِکر دے، د دې جُملې معنىٰ دا ده چې بے شکه هٰغه محبوب بنده (يعني رسولِ خُدا، احمد مجتبىٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اوريدونکے ليدونکے دے يعني د قدرت د نخښو د ليدو او د الله پاک د ديدار کولو تاب صرف په هغوئي کښې دے، ځکه معراج هم په هغوئي اوکړے شو۔ (1)

## د مِعراج د سفر يو حِکمت

الله پاک د خپل حبيب، د زړونو د طبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مِعراج د سفر يو حکمت

---

[1]... نور العرفان، پاره:15، سورۀ بنی اسرائیل، زير آيت:1، صفحه:339 بتغير قليل۔

بيان کړو او اوئې فرمائيل:

| | |
|---|---|
| لِنُرِيَهٗ مِنْ اٰيٰتِنَا ؕ (پاره:15، سورۂ بنی اسرائیل:1) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: مونږه هغهٔ ته خپلې عظيمې نخښې وښايو- |

يعنې الله کريم پهٔ خپل محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې مِعراج دې د پاره اوکړو چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته خپلې نخښې او د قُدرت عجائبات وښائې-

## مالِک ته د هغهٔ ملکيت وښودلے شو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دا نخښې (مثلاً جنَّت او دوزخ، عرش او کُرسي، لوح او قلم وغيره) ولې وښودلے شول؟ پهٔ دې باره کښې د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير ايمان تازه کوونکے مَدَني ګل ورکړے دے، فرمائي: عرش او فرش او ټول عالَم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عطا کړے شول، ځکه د جنَّت پهٔ دروازو، پهٔ پاڼه پاڼه او ښاخ ښاخ باندې ليکلي شوي دي: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله يعنې دا څيزونه د قُدرت کارخانې جوړ دي او د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ملکيت کښې ورکړے شوي دي- الله پاک ته منظوره شوه چې مالِک ته د هغهٔ ملکيت وښودلے شي، ځکه رَبِّ کريم محبوبِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مِعراج له وغوښتلو او هر څهٔ يې ورته وښودل- [1]

| | |
|---|---|
| کونین بنائے گئے سرکار کی خاطر | کونین کی خاطر تمہیں سرکار بنایا |
| کُنجی تمہیں دِی اپنے خزانوں کی خُدا نے | محبوب کیا، مالک و مختار بنایا [2] |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... شانِ حبیب الرحمٰن من آیات القرآن، صفحه:107 بتغیرٍ قلیل-
[2] ... ذوقِ نعت، صفحه:47، 48-

## د حبیب او د خلیل فرق

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** دلته د حبیب او د خلیل فرق ته هم وګورئ چې حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د الله پاک خلیل دے، ډیر د اوچتې مرتبے نبي دے، زمونږه د آقا، د مدینے والا مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پس پۀ نبیانو او رسولانو کښې اوچته درجه د هغوئي ده، حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام هم مِعراج اوکړو، هغوئي ته د زمکې او د اسمان بادشاهي وښودلے شوه، هغوئي د کاڼو پۀ یوه ډیرئ باندې ودریدلو، حکم وشو: ابراهیمه! ښکته وګورئ! چې اوئې کتل نو اووۀ واړه زمکې او پۀ هغې کښې موجودې د قدرت نخښې یې ولیدلې، بیا حکم وشو: بره وګورئ! هغوئي چې بره وکتل نو اووۀ واړه اسمانونه یې ولیدل۔ [1] الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ كَذٰلِكَ نُرِیْۤ اِبْرٰهِیْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ (پاره:7، سورۂ انعام: 75) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او هُم دغسې مونږه ابراهیم ته د اسمانونو او زمکې عظیمه بادشاهي ښایو۔ |

دا د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام مِعراج وو خو د حبیب او د خلیل فرق ته وګورئ چې حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام ته د اسمان او د زمکې بادشاهي ښودل منظور وو نو هغوئي پۀ یو کاڼي باندې ودرولے شو او ورته وښودلے شوه خو چې کله یې د خپل حبیب (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) نمبر راغلو نو ❀ جنَّت ښائسته کړے شو ❀ پۀ اسمان او زمکه کښې خوشحالي خورې کړے شوې ❀ حضرت جبرائیلِ امین عَلَیْهِ السَّلَام د فرښتو د جنج سره جنَّتي بُراق راوستو او حاضر شو ❀ او الله پاک خپل محبوبِ کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اسمانونو ته نۀ بلکې د اووۀ واړو اسمانونو نه هم بره وغوښتلو او د خپل قُدرت عظیمې نخښې یې ورته وښودلې، دا دي د حبیب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شانونه---!!

---

[1]... تفسیرِ صراط الجنان، پاره:7، سورۂ انعام، زیرِ آیت:75، جلد:3، صفحه:141 142 بتغیر قلیل۔

قربان میں شان و عظمت پر، سوئے ہیں چین سے بستر پر
جبریلِ امیں حاضِر ہو کر معراج کا مژدہ سُناتے ہیں
اللہ کی رحمت سے سَرور جا پہنچے دنیٰ کی منزل پر
اللہ کا جلوہ بھی دیکھا، دِیدار کی لذّت پاتے ہیں(1)

## د با حرف یوه معنیٰ

علمائے کرامو ډیره ښکلې خبره لیکلې ده: اللّٰه کریم فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَسۡرٰی بِعَبۡدِهٖ<br>(پارہ:15، سورۂ بنی اسرائیل:1) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: خپل خاص بنده یې بوتللو- |

پۀ دې ځائے کښې د **عبد** لفظ نه مخکښې بَا زیر **بِ** دے، پۀ دې ځائے کښې د با معنیٰ ده: **مُصَاحَبَت** (یعنې رفیق ،ملګرے کیدل) یعنیٰ ❀ پۀ دې سفر مبارک کښې د اللّٰه پاک خصوصي عطاګانې، مدد او نصرت او لطف او کرم د سَیّدُ الاَنبِیا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره وو ❀ اللّٰه پاک سرکارِ عالي وقار، د مکې مدینے تاجدار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مسجدِ حرام نه روان کړو ❀ بیا یې پرې د ټولو ځایونو سیل اوکړو ❀ د قدرت عجائبات او نخښې یې ورته وښودلې ❀ مقامِ دَنیٰ یې ورته عطا کړلو ❀ د محبوب سره یې د راز او د نیاز خبرې اوکړلې ❀ د اَوَّلین او د آخِرین (یعنې د مخکښینو او وروستنو ټولو) عِلم یې ورعطا کړو ❀ حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته یې سلام او د رحمت او برکت تحفه او اُمَّتیانو ته یې 5 نمونځونه عطا کړل او پۀ خیر او خیریت سره یې مکے مکرمې ته راورسولو- (2)پہ دی پوره سفر کښې هغوي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یواځې نه وو د اللّٰه پاک خاص عطاګانې پۀ هره

1 ...وسائلِ بخشش، صفحہ:286۔
2 ...تحفۂ معراج النبی، صفحہ:125 خلاصۃً۔

کړې کښې د هغوې سره وې-

معراج ہوئی تا عرش گئے حق تم سے مِلا تم حق سے مِلے
سب راز فَاَوْحیٰ دِل پہ کُھلے یہ عزت و حشمت کیا کہنا...!!(1)

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په غلامانو باندې کرم

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! الله کريم فرمائي:

| | |
|---|---|
| لِنُرِيَهٗ مِنْ اٰيٰتِنَا ؕ (پاره:15، سورۂ بنی اسرائیل:1) | [مفهوم] ترجمۂ كنزُ العِرفان: مونږه هغۀ ته خپلې عظيمې نخښې وښايو- |

يعني په صاحبِ مِعراج نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې مِعراج اوکړے شو د پاره د دې چې هغوئ ته د الله پاک نخښې وښودلے شي- په دې کښې په مونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په غلامانو باندې هم د کرم يو جهت موجود دے-

امام فخر الدِّين رازي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ډيره ايمان تازه کوونکې نکته ليکلې ده، د هغوئ د فرمان خُلاصه ده: چې کله يو خيز ناڅاپه د بنده مخې ته راشي، اګر که انسان د هغې نه مخکښې خبر وي، هغۀ ته معلوم هم وي خو د څۀ وخت د پاره د انسان زړۀ په هُغه خيز کښې مشغول شي، توجه ترينه نۀ لرې کيږي، رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته هم د جنَّت او د دې د نعمتونو عِلم وو، د دوزخ او هلته د عذابونو ورته هم عِلم وو خو الله پاک د قيامت راتللو نه مخکښې هغوئ ته د جنَّت نعمتونه او د دوزخ وحشتونه وښودل د پاره د دې چې کله د قيامت په ورځ جنَّت او دوزخ مخې ته راوړے شي نو د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زړۀ هُغه اړخ ته مشغول نشي بلکې د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

[1]... قبالۂ بخشش، صفحه:85-

تېوله توجه د خپلو غلامانو طرف ته وي او د هغوئي پۀ شفاعت کښې مصروف وي-[1]

مِعْراج کی شَب تو یاد رکھا، پھر حشر میں کیسے بھولیں گے

عطّار اسی اُمّید پہ ہم دِن اپنے گزارے جاتے ہیں[2]

اَللّٰہُ اَکْبَر! څومره لوئي کمال دے، الله کريم او د هغۀ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږه د ګنهګارانو تر کوم حده پورې خيال ساتي خو افسوس چې يو مونږ ګنهګاران يو ❁ زمونږ سره بڅپله هُم خپل فِکر نشته ❁ مونږه د خپلې بخښنې او مغفرت فِکر نۀ کوو ❁ پۀ خوښه يا پۀ نا خوښه د نفس او د شيطان پۀ جال کښې راګيرېږو ❁ پۀ ګناهونو کښې مشغوليږو- الله پاک دې زمونږه عقلِ سليم نصيب کړي- کاش چې مونږه د الله پاک شُکر ګزار بندګان جوړ شو او د ګناهونو نه بچ شو او د نيکو والا ژوند تير کړو-

نہ کرنا حَشر میں پُرسش مِری ہو بے سبب بخشش
عطا کر باغِ فِردوس از پئے شاہِ اُمَم مولیٰ!

تُو ڈر اپنا عنایت کر، رہیں اس ڈر سے آنکھیں تر
مِٹا خوفِ جہاں دل سے مِٹا دنیا کا غم مولیٰ!

تُو بس رہنا سدا راضی، نہیں ہے تابِ ناراضی
تُو نا خوش جس سے ہو برباد ہے تیری قسم مولیٰ![3]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مِعراج د سفر يو څو نا اشنا څيزونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د رسولانو سالار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د مِعراج پۀ شپه کوم نا اشنا څيزونه وليدل، راځئ چې پۀ هغې کښې د يو څو ذِکر واورو او

---

[1]...تفسیرِ کبیر، پارہ:15، سورۂ بنی اسرائیل، زیرِ آیت:1، جلد:7، صفحہ:297۔
[2]...وسائلِ بخشش، صفحہ:288۔
[3]...وسائلِ بخشش، صفحہ:97 98 ملتقطاً۔

د هغې نه سبق حاصل کړو:

## جامې شلوونکې لړګې

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله د مکې مکرمې نه روان شو او د مسجدِ اقصیٰ طرف ته تللو نو د معراج د سفر په دې حصه کښې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډیر نا اشنا څیزونه ولیدل، مثلاً دُنیا یې د ډیرې بد شکلې بوډۍ په شکل کښې ولیدله ❀ د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام په قبر مبارک باندې چې تیریدلو نو هغوئي یې په مزار مبارک کښې په ولاړه په نـمونځ کولو ولیدلو، یو د سبق نه ډک منظر رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا هم ولیدلو چې یو لړګې دے، د لارې په مینځ کښې پروت دے، څوک چې په هٔغه ځائې تیریږي، هٔغه لړګې د هغۀ په جامو پسې انښلي او جامې ترینه شلوي۔ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: اے جبرائیله! دا څۀ دي؟ عرض یې اوکړو: اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا ستاسو د اُمت هٔغه خلق دي (یعني د هٔغه خلقو مثال دے) کوم چې په لارو کښې کښیني۔ بیا جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَام دا آیت مبارک تلاوت کړو: [1]

| | |
|---|---|
| وَلَا تَقْعُدُوْا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوْعِدُوْنَ (پاره:9، سورۂ اعراف:86) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او په یوه لار کښې هُم داسې مۀ کښینئ چې لاروي ویروی۔ |

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** په دې روایت کښې زمونږ د پاره سبق دے۔ څومره داسې خلق دي ❀ کوم چې په لارو کښې کښیني ❀ تمبو وغیره باندې لارې بندوي ❀ بعضې لوفران قِسمه خلمي قصداً عمداً په لارو کښې ودریږي، په کومې چې تلونکې راتلونکې د پریشانۍ سره مخ کیږي ❀ داسې په لارو کښې کَند غورځول ❀ د میوو پوستکي غورځول

---

[1] ... سبل الهدی، جماع ابواب معراجه، الباب الثامن...الخ، جلد:3، صفحه:82۔

❁ خلقو ته غلطه لاره ښودل وغيره پۀ لارو کښې پۀ کيناستو خلقو ته د تکليف رسولو مختلف اندازونه دي۔

مونږ له د داسې بد تهذيبئ نه هميشه بچ کيدل پکار دي۔

## د لارې حقونه

**پۀ بُخاري شريف کښې دي:** د حضرت ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم ته) اِرشاد وفرمائيلو: تاسو پۀ لارو کښې د کيناستو نه ځان ساتئ! صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم عرض اوکړو: مونږ پۀ هغه مجلسونو کښې پۀ کيناستو (ضروري) خبرې کوو او دا زمونږ د پاره ضروري دي۔ اوئې فرمائيل: چې کله تاسو مجلسونو ته راځئ نو لارې ته د هغې حق ورکوئ۔ عرض يې اوکړو: د لارې حق څۀ دے؟ اِرشاد يې وفرمائيلو: **(1)**: نظر ښکته ساتل **(2)**: ضرر رسوونکے څيز لرې کول **(3)**: د سلام جواب ورکول **(4)**: د نيکئ حُکم کول او د ګناه نه منع کول۔ [1]

**معلومه شوه** چې ورومبے حُکم خو دا دے چې مونږ پۀ لارو کښې هډو کښينو نۀ، که د څۀ ضرورت پۀ وجه بهر پۀ کوڅه وغيره کښې کيناستل وي نو لازمي دي چې د لارې دا ځلور حقونه ادا کړو: **(1)**: نظر ښکته وساتو، تلونکو راتلونکو ته نيغ نيغ نۀ ګورو، د خلقو کورونو ته نۀ ګورو او چې پۀ کوڅه تيريدونکو زنانۀ ته تکليف نۀ وي، د دې خيال وساتو **(2)**: که پۀ لاره کښې څۀ ضرر رسوونکے څيز پروت وي، مثلاً څۀ کانے پۀ لار کښې پروت وي، خوک پرې تيندک وهلے شي، د کيلې پوستکے پروت وي، پۀ هغې باندې پۀ ښپه راتللو انسان خوئيدے شي، داسې که څۀ ضرر رسوونکے څيز وي، هغه

---

[1] …بخاری، کتاب الاستئذان، صفحه:1542، حديث:6229۔

لرې کړو (3): پۀ لاره تيريدونکو ته سلام هم کوو او که څوک مونږ ته سلام اوکړي نو هغوئي له جواب هم ضرور ورکړو (4): او څلورم حق: د نيکئ دعوت عام کړو- مثلاً مونږ پۀ کوڅه کښې يو، څوک پۀ څۀ غلط کار کولوووينو، پۀ حکمت سره، پۀ مينه محبت باندې هغه پوهه کړو، تلونکو راتلونکو ته د موقعې پۀ مناسبت سره د نيکئ دعوت هم ورکړو- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د ضرورت پۀ توګه پۀ لاره کښې ناسته به مو هم د نيکو نه ډکه شي-

اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ـ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## وړوکے کانے او غټ غوئې

مسجدِ اقصیٰ ته د تللو پۀ وخت رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو منظر دا هم وليدلو چې يو وړوکے شان کانړے دے، د هغې نه يو غټ غوئې راووتو، بيا هُغه غوئې هُغه کاڼي ته واپس د ننوتو کوشش شروع کړو خو هُغه د(کاڼي نه راوتلے غوئې) واپس هُغه کاڼي ته دننه نۀ شو- پۀ پوښتنه کولو ووئيلے شو: دا هُغه ګس دے کوم چې لوئې لوئې خبرې کوي بيا پۀ هغې باندې ستومانه وي خو د خپلو خبرو د واپس کولو وَس نۀ لري- [(1)]

## د سوچ نه بغير د خبرو کولو وبال

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! واقعي چې خبره رښتيا ده، کومه خبره چې يو ځل د خُلې نه ووځي، نو هغه بيا وتلې وي، بيا هغه واپس نشي راګرځيدے- د حيرانتيا بلکې د عبرت خبره دا ده چې ژبه وړۀ شان ده خو د دې نه خبرې دومره لوئې لوئې ووځي چې لوئے لوئے

---

[1]... سبل الهدى، جماع ابواب معراجه، الباب الثامن...الخ، جلد:3، صفحه:82ـ

مسئلې ترينه جوړې شي- لهذا عقلمند هغه دے كوم چې په سوچ او فِكر سره خبرې كوي- بے سوچه خبرې كوونكے عام طور نقصان كوي- زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: انسان (په نيكو كولو) جَنَّت ته نزدې شي، نزدې شي، د دې پورې چې د هغه او د جَنَّت ترمينځه يو ګز فاصله پاتې شي، بيا هُغه اِنسان د خپلې خُلې نه داسې لفظ اوباسي، د كوم په وجه چې هغه د جَنَّت نه لرې كړے شي- (1)

بَك بَك كى يه عادَت نه سرِ حشر پهنسادے | الله! زباں كا هو عطا قفلِ مدينه
هر لفظ كا كس طرح حساب آه! ميں دُوں گا | الله! زباں كا هو عطا قفلِ مدينه (2)

## ژبه د زهريله مار په شان ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زهٔ تاسو ته يوه معلوماتي خبره عرض كووم: ټول تقريباً 18 زره عالَمه (يعني جهانونه) دي، خوب هم يو جهان دے، كوم ته چې عالَمِ رُؤيا وئيلے شي- په عالَمِ رَؤيا (يعني په خوب) كښې زمونږ د خُلې نه وتونكي الفاظ د مار په شكل كښې ښودلے كيږي- اِمام اِبنِ سيرين رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د تعبير د عِلم ډير لوئي اِمام دے- هغوئي فرمائي: كه څوك خوب ويني چې د هغهٔ د خُلې نه مار وتلے دے نو د هغې تعبير دا دے چې د دې اِنسان د خُلې نه به داسې لفظ ووځي، كوم چې به د هغهٔ د پاره د ځان وبال( سرخوږے)جوړيږي- (3)

الله! الله! اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اندازه ولګوئ چې مار څومره زهريه ځناور دے، دغه شان زمونږه ژبه هم ډير خطرناک اندام دے، ژبه د 32 غاښونو په څوكيدارئ كښې اينبودے شوې ده، د دې باوجود دا نهٔ قابو كيږي، كله چې د دې نه زهر

---

1 ...مسند امام احمد، مسند الانصار، جلد:9، صفحه:469، حديث:23843۔
2 ...وسائلِ بخشش، صفحه:93۔
3 ...تعبير الرؤيا (مترجم)، صفحه:414۔

ووځي نو صرف جسم ته نۀ بلکې بعضې وخت ایمان ته هم ډیر نقصان رسوي۔

## لاسونه او ژبه پۀ قابو کښې ساته---!!

حضرت اَسوَد رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ صحابئ رسول دے، هغوئي فرمائي: ما د الله پاک د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ما ته نصیحت اوکړئ! رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: آیا تۀ خپله ژبه قابو کولے شې؟ ما عرض اوکړو: که زۀ خپله ژبه قابو نه کړے شم نو پۀ کوم څیز به قابو بیاموم؟ سردارِ انبیا، محبوبِ خُدا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: آیا تۀ خپل لاسونه قابو کولے شې؟ ما بیا عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! که زۀ خپل لاسونه هم قابو نۀ کړے شم نو پۀ کوم څیز به قابو بیاموم۔ بیا آقائے نامدار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: بس بیا پۀ خپله خُله باندې همیشه ښې خبرې کوه او ستا لاسونه دې د خیر نه عِلاوه بَل څۀ طرف نۀ اوچتیږي۔ (1)

یارَبّ! نہ ضرورت کے سوا کچھ کبھی بولوں | اللہ! زباں کا ہو عطا قفلِ مدینہ (2)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## جَنَّتي او دوزخي رُوحونه

د مِعراج شریف پۀ باره کښې پۀ **بُخاري شریف** کښې پۀ روایت کښې دي: کله چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وړومبي اسمان ته تشریف یوړلو نو هلته د هغوئي ملاقات د حضرت آدم عَلَیۡہِ السَّلَام سره وشو، حضرت آدم عَلَیۡہِ السَّلَام نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته پۀ هر کلي وئیلو ووئیل: مَرۡحَبًا بِالۡاِبۡنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِیِّ الصَّالِح یعني صالحه ځوي

---

[1]…معجم کبیر، جلد:1، صفحه:218، حدیث:816۔

[2]…وسائلِ بخشش، صفحه:93۔

او صالحه نبي ته هر كلےدے-

سيّدِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام ښي او ګڅ اړخ (*Right Left*) ته څه خلق وليدل، هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام به چې كله ښي اړخ(*Right*) ته كتل نو خندل به يـې او كله چې به يـې ګڅ اړخ(*Left*) ته كتل نو ژړل به يـې- حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام عرض اوكړو: د دوئي ښي او ګڅ اړخ ته چې كوم شكلونه دي دا د دوئي اولاد دے، د ښي اړخ والا جنتيان دي او د ګڅ اړخ والا دوزخيان دي- (1)

## د خلقو صرف دوه قِسمونه دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! په دې روايت كښې هم زمونږ د پاره د زدكړې سبق دے، وګورئ چې د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام ټول اولاد په 2 حصو كښې وښودلے شو، يو د ښي اړخ والا او دويم د ګڅ اړخ والا- ښي اړخ والا جنتيان او ګڅ اړخ والا دوزخيان---!!

معلومه شوه چې د اِبنِ آدم صرف دوه حالتونه دي ❁ يا خو به هغه جنتيان وي ❁ يا به دوزخيان وي، دريم حالت نشته- الله پاک په قرآنِ كريم كښې فرمائي:

فَمِنۡهُمۡ شَقِیٌّ وَّ سَعِیۡدٌ ﴿۱۰۵﴾ فَاَمَّا الَّذِیۡنَ شَقُوۡا فَفِی النَّارِ لَهُمۡ فِیۡهَا زَفِیۡرٌ وَّ شَهِیۡقٌ ﴿۱۰۶﴾

(پارہ:12، سورۂ ہود:105 106)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: نو په هغوئي كښې به څوک بد بخته وي او څوک به خوش قِسمته وي- نو څوک چې بد بخته وي هغوئي خو به په دوزخ كښې وي، هغوئي به په هغې كښې د خَر په شان هنيرې-

---

1 …بخاری، کتاب الصلاۃ، باب کیف فرضت …الخ، صفحه:161، حديث:349۔

نور فرمائي:

وَ اَمَّا الَّذِیْنَ سُعِدُوْا فَفِی الْجَنَّةِ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا (پارہ:12، سورۂ ہود:108)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او خوک چې خوش قِسمته وي هغوئي به په جَنَّت کښې وي، هميشه به په هغې کښې اوسيږي۔

مطلب دا چې د قيامت په ورځ به د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله د قيامته پورې راتلونکي ټول خلق راجمع کولے شي، د هغوئي به دوه ډلې وي ❀ يو هُغه کوم چې شقي دي ❀ دويم هُغه کوم چې سَعِيد دي- په چا باندې چې بد بختي غالبه شوه او د هغوئي د پاره د دوزخ فيصله اوکړے شوه نو هغوئي به په دوزخ کښې اوسيږي او په دوزخ کښې به د هغوئي حال دا وي چې هغوئي به د خَر په شان هنيږي- (1)

او کوم چې سعادت مند وي، هغوئي به د هميشه هميشه د پاره په جَنَّت کښې اوسيږي او بعضې به هُغه ګنهګاران وي کوم چې به د خپلو ګناهونو په وجه د څهٔ مودې پورې په دوزخ کښې وي، بيا به هغوئي جَنَّت ته داخِل کړے شي- دا د الله پاک عطا ده، د هغهٔ کرم او رحمت دے کوم چې به چرې هم نهٔ ختميږي- (2)

## د سعادت مند نخښې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! معلومه شوه چې د قيامت په ورځ به هم دوه حالتونه وي، يا خو به د الله پاک په رحمت سره جَنَّت نصيب کيږي او يا به دوزخ ځائے وي-

الله پاک دې مونږ د دوزخ نه بچ کړي، د سوچ خبره ده چې مونږ په کومه يوه ډله کښې يو؟ آيا زهٔ په هغوئي کښې يم کومو ته چې په کتلو به حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام مُسکے کيدلو يا په

[1] …تفسير صراط الجنان، پاره:12، سورۂ هود، زير آيت:106، جلد:4، صفحه:498۔
[2] …تفسير صراط الجنان، پاره:12، سورۂ هود، زير آيت:108، جلد:4، صفحه:501 خلاصةً۔

هغوئي کښې يم کومو ته چې پهٔ کتلو به هغوئي ژړل؟ مونږ ته به دا پته څنګه لګي---؟ راځئ چې يو حديثِ پاک واورو:

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: يوه ورځ مونږ پهٔ بارګاهِ رسالت کښې حاضر وو، پهٔ دې کښې يو ګس راغلو، هغه چې کله مونږ وليدلو نو د خپلې سورلۍ نه راکوز شو او پهٔ پيدل راتللو بارګاهِ رسالت ته حاضر شو او عرض يــې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زهٔ د داسې ځائے نه راغلے يم چې هغه سفر په9 ورځو کښې وهلے کيږي خو داسې راغلے يم چې ما دا مزل پهٔ 6 ورځو کښې اوکړو، زهٔ د ورځې تږے پاتې شوم، شپه مې پهٔ ويښه تيره کړه (داسې ما پهٔ تيزئ سره سفر اوکړو د پاره د دې چې زر تر زره ستاسو پهٔ خِدمت کښې حاضر شم، يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم!) زما د راتللو مقصد پهٔ اصل کښې دوه پوښتنې دي، کومو چې زما خوب تښتولے دے، بس زهٔ د هغې جواب غواړم-

خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هُغه خوش قِسمته مسافر نه د نوم پوښتنه اوکړه: اوئې وئيل: اَنَازَيْدُ ‌الْخَيْلُ يعنې زهٔ د اَس والا زيد يم- رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: بَلْ اَنْتَ زَيْدُ ‌الْخَيْرُ (يعنې تهٔ د اَس والا زيد نهٔ) بلکې د خير والا زيد يــې- بيا يــې وفرمائيل: پوښتنه اوکړه څهٔ پوښتنه کول غواړې؟ بيا هُغه صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دوه نا اشنا پوښتنې اوکړې، عرض يــې اوکړو: (1): يو دے هُغه اِنسان کوم چې د الله پاک خوښ دے، د هغهٔ څهٔ نخښه ده (2): او دويم دا چې هُغه اِنسان کوم چې د الله پاک خوښ نهٔ دے، د هغهٔ نخښه څهٔ ده-

دا دواړه نا اشنا پوښتنې وې، قربان شم! د غيبو د خبرو نه خبر نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم نه، لکه څنګه چې پوښتنې نا اشنا وې، هغوئي جوابونه هم نا اشنا ورکړل، اِرشاد يــې وفرمائيلو: اے زيده! تا پهٔ کوم حالت کښې سبا کړے وو؟ عرض يــې

اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! کله چې مې سبا کړو نو زما حالت دا وو چې ❁ زما په زړهٔ کښې د نیکۍ او د نیکانو خلقو محبت وو ❁ زما زړهٔ غوښتل چې زهٔ نیک کارونه اوکړم ❁ بیا چې کومه نیکي زما نه پاتې شوه، ما اونکړے شوه، زهٔ په هغې خفه شوم او کومې نیکۍ مې اوکړې، که هغه لږې وې او که ډیرې ، زما په هغې باندې د ثواب موندو یقین شو۔

(یعنې دا ټول درې کارونه دي: (1): د نیکۍ او د نیکانو خلقو سره محبت (2): د نیک کار کولو خواهش (3): که څهٔ نیکي نهٔ وي شوې نو په هغې باندې خفه کیدل)۔ رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت زَیْدُ الْخَیْر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په جواب اوریدو وفرمائیل: هِیْهِ! هٰذِهٖ عَلَامَةُ اللّٰهِ فِیْمَنْ یُّرِیْدُ یعنې آؤ! هم دا خبره ده، هم دا د هٰغه کَس نخښه ده کوم چې د الله پاک خوښ دے او د الله پاک د نا خوښه اِنسان نخښه دا ده چې که ستا نه د نیکۍ اِراده نهٔ کیدله نو ستا د پاره به د دې نه اُلټا کارونه اسانیدل، بیا به د الله پاک هیڅ پروا نهٔ وه چې ته په کومه وادۍ(دره) کښې هلاک کیږې۔ [1]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د الله پاک خوښ اِنسان، نیک او سعادت مند بنده هغه دے په کوم کښې چې دا درې نخښې وي چې (1): هغه د نیکۍ سره هم محبت کوي او د نیکانو خلقو سره هم محبت کوي (2): چې هغه صرف د نیکو کولو په تعریف نهٔ را ایساریږي بلکې پخپله هم نیک اِنسان جوړیدل غواړي (3): او دریمه خبره دا چې خُدائے دې نهٔ کړي په څهٔ وجه هغه نیکي اونکړے شي نو د هغې په پاتې کیدو خفه هم وي۔ دا سعادت مند اِنسان دے۔

اوس دې مونږ غور اوکړو، که دا درې واړه نخښې په مونږ کښې هم موندلے کیږي ، مونږ

---

[1] ... السنة لابن ابي عاصم، جلد:1، صفحه:296، حدیث:424۔

د نیکۍ او د نیکانو خلقو سره محبت کوو، د نیک جوړیدو خواهش لرو، خُدائے دې نهٔ کړي که څهٔ نیکي رانه پاتې شي نو د هغې نه پهٔ محرومه کیدو خفه کیږو نو دا نخښنه ده چې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د قیامت پهٔ ورځ باندې به د سعادت مندو سره یو او که الله پاک وغوښتل نو جَنَّت به مو نصیب شي- الله پاک دې مونږ ته د نیک جوړیدو، د نیکو سره د محبت کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ـ

## د عرش پهٔ نُور کښې رانغښتلے شوے اِنسان

اِمام اِبنِ اَبِي دُنیا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډیر مشهور عالِم، مُحَدِّث او صُوفي دے، د دریمې صدۍ هجرۍ بزرګ دے، د اِمامِ بخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ شاګردانو کښې دے، هغوئي یو ډیر ښکلے روایت ذِکر کړے دے، لیکلي یې دي: چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مِعراج له تشریف یوړلو، هٰغه وخت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو ډیر عجیبه منظر ولیدلو، هغه څهٔ وو؟ فرمائي: ما د عرش پهٔ نُور کښې رانغښتلے شوے یو انسان ولیدلو، ما پوښتنه مې اوکړه: مَنْ هٰذَا؟ اَمَلَكٌ؟ دا څوک دے؟ آیا څوک فرښته ده؟ ووئیلے شو؟ نه- ما ووئیل: اَ نَبِيٌّ؟ آیا څوک نبي دے؟ ووئیلے شو: نه- ما پوښتنه اوکړه: مَنْ هُوَ؟ بیا دا څوک دے؟ جواب راکړے شو (د کوم خلاصه چې ده چې) دا هٰغه ګَس دے د کوم چې درې صفتونه دي: **(1):** د دهٔ ژبه به د الله پاک پهٔ ذِکر باندې لـمده وه **(2):** د دهٔ زړهٔ به د جوماتونو سره لګیدلو **(3):** او د دهٔ پهٔ وجه چرې هم د دهٔ مور پلار ته بدې ردې نهٔ دي وئیلے شوې- [1]

پهنچے جب معراج کی شب سرورِ عالم وہاں
دفترِ اسرار بھی کھلتے چلے جائیں جہاں

عرش کے نزدیک دیکھا آپ نے منظر عجیب
نور کے پردوں میں لپٹا فرد ہے اک خوش نصیب

فرطِ حیرت میں رسول اللہ نے پوچھا سوال!
نور گیں یہ کون ہے؟ بتلاؤ مجھ کو اس کا حال
(نورانی)

---

[1]... موسوعه ابن ابی دنیا، کتاب الاولیاء، جلد:6، صفحه:415، حدیث:95ـ

کون ہے یہ؟ اور اس کی رفعتوں کا راز کیا؟ | کیا مَلَک ہے؟ یا نبی؟ یا خاص ہے اعزاز کیا؟
یارسول اللہ! یہ بھی آپ کی امت سے ہے | ہاں مگر یہ خوش عقیدہ اہلِ خوش خصلت سے ہے
ذکر سے اللہ کے تر رہتی تھی اس کی زباں | لَوٹ بھی آئے اگر مسجد سے، دل رہتا وہاں
واسطے ماں باپ کے نہ تھا یہ طعنوں کا سبب | بس یہ تینوں عادتیں ہیں اس کی شانوں کا سبب

سُبْحٰنَ الله! سُبْحٰنَ الله! د دې روایت نه معلومه شوه چې ❁ د جوماتونو سره محبت کول، ❁ د مور او پلار عزت کول او ❁ ډېر ذِکرُ الله کول دا درې واړه داسې کارونه دي کوم چې د الله پاک ډېر خوښ دي- مونږ له هم د دې ټولو کارونو کوشش کول پکار دي خاص طور د الله پاک د ذِکر کولو عادت جوړول پکار دي، ځکه چې دا زمونږ د ژوند مقصد هم دے او د اخرت د کامیابو د حاصلولو سبب هم-

## د حضرت اِبراهیم عَلَیْهِ السَّلَام پیغام، د خوږ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غلامانو پهٔ نوم

زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د مِعراج پهٔ شپه زما ملاقات د اِبراهِم عَلَیْهِ السَّلَام سره وشو، هغوئي وفرمائیل: اے محبوب نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! خپل اُمت ته زما سلام ورسوئ!

(سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلې خبره ده--!! د خوږ آقا کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ برکت پهٔ مونږ ګنهګارانو باندې کومې کومې عطاګانې دي--!! د الله پاک خلیل عَلَیْهِ السَّلَام پهٔ مونږ ګنهګارانو سلام رالیږي-)

اے ماہِ مدینہ تری تَنْوِیر کے قرباں! | چمکا دیا اُمّت کا نصیبہ شبِ معراج

الله پاک دې مونږ ته پهٔ دې عطاګانو باندې د شُکر ادا کولو توفیق را کړي- مَدَّاحِ حبیب مولانا جمیل رضوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

اپنے مَحبوب کی اللہ نے اُمّت میں کیا | سُنّیو...! مِل کے کرو شکرِ خُدا آج کی رات

خیر! ما روایت بیانولو- حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ذریعه اُمت ته سلام راولیږو، بیا یـې وفرمائیل: اے محبوب نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! خپل اُمت ته وفرمایئ چې جَنَّت پاکه او زَرخَیزه زمکه ده او د خالي میدان پهٔ شکل کښې دے- بے شکه د دې ځائے باغونه سُبْحٰنَ اللّٰه! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه اور اَللّٰهُ اَكْبَر دي- [(1)]

یعنې جَنَّت خالي زمکه ده، اِنسان چې کله سُبْحٰنَ اللّٰه! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه اور اَللّٰهُ اَكْبَر وائي نو د هغهٔ د پاره پهٔ جَنَّت کښې ونه نالولے کیږي- لهٰذا اے خوږه محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! خپل اُمت ته وفرمایئ چې د دې کلماتو ډیر ذِکر کوي د پاره د دې چې پهٔ جَنَّت کښې د هغوئي د پاره د زیاتو نه زیات باغونه ولګي-

مَاشَآءَ اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! څومره ښکلے نصیحت دے- کوشش اوکړئ چې پهٔ کثرت سره د اللّٰه پاک د ذِکر عادت جوړ کړئ! پهٔ یو ځل سُبْحٰنَ اللّٰه وئیلو باندې څومره وخت لګي، چرته ګړی ته وګورئ چې پهٔ سیکنډ کښې دوه درې کرته سُبْحٰنَ اللّٰه پهٔ اسانۍ سره وئیلے کیدے شي- یعنې صرف د سیکنډونو کار دے او د دې اَجر څومره دے؟ یو ځل پهٔ سُبْحٰنَ اللّٰه وئیلو سره پهٔ جَنَّت کښې یوه ونه نالولے کیږي- اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

| | |
|---|---|
| میری زبان تَر رہے ذِکر و دُرُود سے | بے جا ہنسوں کبھی نہ کروں گفتگو فُضُول |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د مِعراج پهٔ شپه محبوبِ خُدا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډیر نا اشنا څیزونه ولیدل، سیّدِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې د دُنیا د وخت مطابق پهٔ یو سیکنډ کښې څومره نا اشنا څیزونه ولیدل، د هغه نا اشنا څیزونو

---

[1]... الانس الجلیل، جلد:1، صفحه:130-

ليدل خو غټه خبره ده، مونږ هغه پهٔ ډيرو ګينټو کښېږ هم نهٔ شو بيانولے - تاسو اندازه ولګوئ چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سيرت يو څو سيکنډه چې داسې دي نو آيا بيا د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ټول سيرت مبارک بيانول د چا پهٔ وس کښې کيدے شي---؟ څکه خو مونږ وايو:

| | |
|---|---|
| زندگیاں ختم ہوئیں اور قلم ٹُوٹ گئے | تیرے اوصاف کا اِک باب بھی پُورا نہ ہوا |

خير! د معراج ټول عجائبات خو زهٔ بيانولے نهٔ شم، يو څو روايتونه مې عرض کړل، راځئ چې پهٔ اخره کښې د سبق نه يو ډک روايت د هغه وخت پهٔ باره کښې واورو کله چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے د الله پاک پهٔ حضور کښې پهٔ خاص قُرب کښې حاضر وو-

## ورځ شپه او شپه ورځ جوړه کړئ---!!

**روايت دے:** د مِعراج پهٔ شپه محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عرض اوکړو: يَا رَبِّ! دُلَّنِى عَلٰى شَىْءٍ اَتَقَرَّبُ اِلَيْكَ اے کريم مالکه! ماته د داسې عمل راهنمائي اوکړې، د کوم پهٔ ذريعه چې زهٔ ستا قُرب حاصل کړم-

اوس دلته وګورئ چې دا سوال جواب زمونږ د ښودلو د پاره دي، ګني خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو د دې نه مخکښې هم پهٔ داسې خاص قُرب کښې حاضر شوے وو، چرته چې څوک هم نشي رسيدے، نهٔ د دې نه د زيات نزدې کيدو خيال پهٔ ذِهن کښې راتلے شي-

څکه دا کومه پوښتنه چې خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوکړه، يقيناً چې دا يـې مونږ ته د ښودلو د پاره اوکړه، ګويا مقصد دا وو چې اے کريم مالکه! زما اُمت ستا قُرب د کوم عمل پهٔ ذريعه حاصلولے شي؟

الله پاک وفرمائيل: اِجْعَلْ لَيْلَكَ نَهَارًا، وَنَهَارَكَ لَيْلًا يعني اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زما د قرب موندلو طريقه دا ده چې خپله شپه ورځ او ورځ شپه جوړه کړئ!

عرض اوکړے شو: يَا رَبِّ! كَيْفَ يَكُوْنُ ذٰلِكَ؟ يعني اے ربه! دا به څنګه کيږي؟ اوئې فرمائيل: اِجْعَلْ نَوْمَكَ صَلَاةً، وَاجْعَلْ طَعَامَكَ الْجُوْعَ يعني اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د خپل خوب په ځائے نـمونځ او د خوراک په ځائے لوږه وساتئ![1]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د شپې خوب قربانول او د شۀ وخته پورې نـمونځ کول او د ورځې روژه نيول او لوږه برداشت کول د الله پاک د قرب حاصلولو بهترينه طريقه ده۔

## د شپې د نـمونځ فضيلتونه

(1): حضرتِ ابو هُريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې ما عرض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما د هغه څيز نه خبر کړئ د څه په اختيارولو چې زۀ جَنَّت بيامومـ- اوئې فرمائيل: په خلقو باندې خوراک کوه او سلام عام کړه او صِله رحمي کوه او د شپې چې کله خلق اوده وي نو (نفلي) نـمونځ کوه، تۀ به په سلامتي سره جَنَّت ته داخِل شې۔[2] (2): د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په جَنَّت کښې داسې بالا خانې دي، د کومو بهر چې د دننه او دننه د بهر نه ليدلے کيږي- يو اَعرابي عرض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا د چا د پاره دي؟ نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: دا د هغه چا د پاره دي څوک چې نرمې خبرې (***Soft Communication***) کوي، په خلقو باندې خوراک کوي، پرله پسې روژې نيسي او د شپې چې کله خلق اوده وي نو راپاڅي او د الله پاک د پاره نـمونځ کوي۔[3]

## نـمونځ او د مِعراج ياد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! نـمونځ د مِعراج ډالۍ هم ده، د مؤمن په حق کښې مِعراج

---

[1]...نادر المعراج، صفحه:322۔

[2]...مُسنَدِ امام احمد، جلد:4، صفحه:209، حديث:8152۔

[3]...تِرمذي، کتاب: صفة الجنة، باب: ماجاء في صفة غرف الجنة، صفحه:597، حديث:2527۔

هم دے۔ پۀ مِرقَاۃُ المَفَاتِيح کښې دي: اَلصَّلَاۃُمِعْرَاجُ الْمُؤْمِن نـمونځ د مؤمِن مِعراج دے۔ (1) پۀ دې ښکلي عبادت يعني نـمونځ کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د معراج ياد هم کيښودلے شوے دے۔ آؤ جي! علمائے کرام فرمائي: د مِعراج پۀ شپه چې کله زمونږه خوږ آقا، د مدينے والا مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اللّٰهُ ربُّ العِزّت پۀ بارګاه کښې حاضر شو نو عرض يـې اوکړو: اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰہِ وَالصَّلَوٰتُ وَالطَّيِّبَاتُ (يعنې ټول قولي فعلي او مالي عبادتونه د اللّٰه پاک د پاره دي) اللّٰه پاک د دې پۀ جواب کښې وفرمائيل: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ (سلام دې وي پۀ تا باندې اے نبي! او د اللّٰه پاک رحمتونه او برکتونه)، پۀ دې باندې رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيا عرض اوکړو: اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ (سلام دې وي پۀ مونږ باندې او د اللّٰه پاک پۀ نيکانو بندګانو باندې)۔ (2)

کله چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د معراج نه واپس تشريف راوړلو نو نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمّت ته د اَلتَّحِيَّات تعليم ورکړو او پۀ دې کښې يـې هم دغه مُبارک کلمات وښودل، لکه چې رسول اللّٰه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: اے خلقو! نـمونځ ستاسو معراج دے نو ما چې پۀ معراج کښې د رَبِّ کريم سره کومې خبرې اوکړې او واپس راغلم تاسو هم پۀ نـمونځ کښې هم هغه کوئ۔ (3)

## د معراج د تخفې قدر اوکړئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د هرې زمانې دستور دے چې خلق د تحفو [يعنې د ډالو] قدر کوي، خاص طور چې تحفه د لوئې شخصيت نه ميلاؤ شي نو هغه سمبال کيږدي او پۀ خپل قِسمت باندې ناز کولے شي۔ د دې اُلټا چې څوک د تحفو [يعنې د ډالو] قدر نۀ

[1]... مرقاةُ المفاتيح، کتاب الصلاة، صفحه:421، حديث:746۔
[2]... مرآةالمناجيح، جلد:2، صفحه:88۔
[3]... مرآةالمناجيح، جلد:2، صفحه:90۔

کوي يا د ډالۍ ورکوونکي مننه نۀ کوي نو دې خلقو ته پۀ معاشره کښې پۀ ښه سترګه نه کتلے کيږي- زۀ چې د کومې ډالۍ طرف ته ستاسو پام راګرځول غواړم هغه د مخلوق نۀ بلکې د کائنات د خالق الله پاک راکړے شوې [تحفه] ده کومه چې د معراج پۀ شپه د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ذريعه مسلمانانو ته عطا کړے شوه، دا ډالۍ د دواړو جهانو سردار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو سترګو يخ والے ګرځولې -

اوس مونږ ته غور کول پکار دي چې مونږ د دې معراج د ډالۍ څومره قدر کوؤ- آه! افسوس! نن سبا د نـمونځ هډو فِکر نۀ کيږي، زياتره مسلمانان د نـمونځونو نه لرې دي او کوم چې نـمونځ کوي، پۀ هغوئي کښې هم يوه شميره د داسې خلقو ده، چې کله يــې کوي کله يــې نۀ کوي يا دوه، درې يا څلور کوي، پينځه پوره نۀ کوي، څوک چې پينځه واړه پوره کوي، پۀ هغوئي کښې هم يوه شميره ده کوم چې جُمعه پريږدي، پۀ جومات کښې د جَمعې سره نـمونځ نۀ ادا کوي- کاش! چې زمونږه د دې معراج د تحفې قدر نصيب شي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د 27 رَجَب د روژې ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! روژه د جسماني صحت ضمانت هم ورکوي او د روحاني صحت ضمانت هم ورکوي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَجَبُ الْمُرَجَّب د برکت نه ډکه مياشت خپل برکتونه تقسيموي، د نفلي روژو لکه چې د سپرلي موسم دے، مونږ له پکار دي چې د دې برکتي ورځو نه فائده واخلو او ښې ډيرې روژې ونيسو، نيکۍ هم اوکړو او د روژې نيولو د فضيلت حقدار هم جوړ شو- راځئ چې د ترغيب د پاره د 27 رَجَبُ الْمُرَجَّب د روژې فضيلتونه واورو: ❁ حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: څوک چې د 27 رجب روژه

ونيسي، اللّٰہ پاک به د هغهٔ د پاره د شپيتوو [60] مياشتو د روژو ثواب وليکي۔ [1] ✿ د حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے: د اللّٰہ پاک اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: پهٔ رجب کښې يوه ورځ او شپه ده څوک چې پهٔ هٰغه ورځ روژه ونيسي او د شپې قيام (عبادت) اوکړي نو لکه چې هغه سل [100] کاله روژې ونيولې او دا د رَجَب اوويشتم [27] تاريخ دے۔ [2]

## د شعبان شريف د روژو فضيلت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شعبان شريف مياشت هم تشريف راوړونکې ده۔ دا مياشت هم ډېره د برکتونو، عظمتونو والا ده، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پهٔ دې مياشت کښې پهٔ کثرت سره روژې نيولې۔ پهٔ دې مياشت کښې هم د نفلي روژو پهٔ کثرت سره د نيولو ذِهن جوړ کړئ! ✿ د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائشه صِدِّيقه طيبه طاهره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمائي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما د شعبان شريف نه پهٔ بله مياشت کښې پهٔ زياتو روژو نيولے نهٔ دے ليدلے، نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د يو څو ورځو نه علاوه د مياشتې ټولې روژې نيولې۔ [3] ✿ يو ځل د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پوښتنه وشوه: د رمضان نه پس کومې روژې افضلې دي؟ اوئې فرمائيل: **د رمضان د تعظيم د پاره د شعبان روژې نيول۔** [4]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول د دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي پهٔ دِيني ماحول کښې پهٔ شعبان شريف کښې هم د روژو سپرلے وي، پهٔ مختلفو ځايونو کښې

---

[1] ... فضائل شهر رجب للخلال، صفحه:76، حديث:18۔

[2] ... شعب الايمان، جلد:3 صفحه:374، حديث:3811

[3] ... ترمذی، کتاب:الصوم، باب:ماجاء فی وصال شعبان برمضان، صفحه:206، حديث:736۔

[4] ... ترمذی، کتاب:زکوٰة، باب: فضيلتِ صدقه، صفحه:189، حديث:663۔

د پيشمني اجتماعات هم کولے شي، مَاشَآءَ الله! ډير عاشقانِ رسول پۀ کثرت سره روژې نيسي او پرله پسې روژې نيسي او د رمضان شريف سره ميلاؤيږي- تاسو هم د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره مضبوط تړون پيدا کړئ اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د مِعراج د فيضان سره سره به مو د شعبان شريف او د رمضان شريف ښۀ ډير برکتونه نصيب شي، الله پاک دې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اعتکاف ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت هُم راتلونکې ده- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! رَمَضَانُ الْمُبَارَک ډيره د برکتونو والا مياشت، د رحمان مياشت، د قرآن د نازليدو مياشت او د بخښني مياشت ده-

| | |
|---|---|
| عَجِّلْ عَجِّلْ يا رمضان | جان مری تجھ پر قربان |
| آ بھی جا ماہِ سُبْحٰن | جلدی جلدی آ رمضان |
| جب بھی آتا ہے رمضان | جان میں آجاتی ہے جان |
| خوب ہے رمضاں کی بھی شان | اِس میں اُترا ہے قرآن |
| مجھ کو مدینے میں رمضان | کاش! میسر ہو رحمٰن |
| آجا آ بھی جا رمضان | تجھ پہ فِدا عطّار کی جان |

الله پاک دې زمونږه د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د ليدلو، پۀ دې کښې د ښو ډيرو روژو د نيولو، د ښۀ ډير عبادت کولو توفيق نصيب کړي- د رَمَضَانُ الْمُبَارَک يو ډير اهم عبادت اعتکاف هم دے- نفل اعتکاف خو هر وخت کيدے شي خو کوم اعتکاف چې سنّتِ مؤکده دے، هغه صرف پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې کيږي- د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني

مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه د رَمَضَانُ المُبَارَک د ټولې مياشتې اعتکاف هم ثابت دے او د اخري عشرې اعتکاف خو زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډير زيات خوښ وو، نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د اخري عشرې د اعتکاف ډير اهتمام فرمائيلو- تر دې پورې چې يو ځل يــې په څۀ وجه د رَمَضَانُ المُبَارَک اعتکاف اونکـړے شو نو رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شوال کښې اعتکاف وفرمائيلو- (1)

## د اِعتکاف فضيلتونه

❀ د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائشه صِدِّيقه، طيبه طاهره رَضِیَ اللہُ عَنْھا نه روايت دے، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: مَنْ اِعْتَکَفَ اِيْمَاناً وَاِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ يعني چا چې د ايمان سره او د ثواب حاصلولو په نيت اعتکاف اوکړو د هغۀ وروستني ګناهونه به اوبخښلے شي- (2) ❀ په يو بل روايت کښې دي: چا چې په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې لس ورځې اعتکاف اوکړو هغه داسې دے لکه چې دوه حجونه او دوه عمرې يــې اوکړې- (3)

## د اِجتماعي اِعتکاف ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تنظيم په ټوله دنيا کښې د نيکۍ دعوت عام کولو کښې مصروف دے، د رَمَضَانُ المُبَارَک د فيضان موندلو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د

---

[1] … بخاری، کتاب الاعتکاف، باب الاعتکاف فی الشوال، صفحه:533، حديث:2041۔

[2] … جَامِعِ صغير، صفحه:516، حديث:8480۔

[3] … جَامِعِ صغير، صفحه:516، حديث:8479۔

دعوتِ اِسلامي د زير نګرانۍ پۀ ټوله دنيا کښې پۀ زرګونو ځايونو کښې اجتماعي اِعتکاف هم کولے شي، تاسو هم کوشش اوکړئ چې د روژې د ټولې مياشتې د اِعتکاف سعادت حاصل کړئ! بلکې پۀ عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه (کراچۍ) کښې اِعتکاف اوکړئ! چې هلته به مو د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د وخت د يو کامِلِ وَلي سره د اِعتکاف کولو سعادت نصيب شي نو د دې برکتونه به هُم جدا وي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! پۀ رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف کښې به د ګناهونو نه د بچ کيدو، د نيکو کولو، د نفل عبادتونو شوق زياتيدو سره سره ډير عِلمِ دِين هم زده کړئ- راځئ چې د ترغيب د پاره د اِجتماعي اِعتکاف يو مَدَني سپرلے واورو:

## د ګناهونو نه پۀ ډک ژوند کښې يـې سپرلے راغلو

د ډيره اللّٰه يار (صوبه بلوچستان، پاکستان) د يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده: زۀ مخکښې د ګناهونو پۀ ډنډه کښې انښتے ووم، فلمونه کتل او بد نظري وغيره زما د خوښې کارونه وو، يو ځل د يو عاشقِ رسول اِسلامي ورور سره زما ملاقات وشو، هغوئي د محبت نه پۀ ډک انداز کښې ما له پۀ اِجتماعي سُنّت اِعتکاف کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، د هغوئي د حکمت نه ډک او ښکلے انداز چې مې وليدلو نو زما پۀ زړۀ اثر وشو او زۀ د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف پۀ اِجتماعي اِعتکاف کښې د شرکت کولو د پاره فيضانِ مدينه ته لاړم- پۀ اِعتکاف کښې د مبلغينو اِسلامي وروڼو د سنتو نه ډکو بيانونو، زړۀ راښکونکو مناجاتو او ژړيدونکو دُعاګانو زما د زړۀ دنيا بدله کړه، ما د تيرو ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اِسلامي پاک ديني ماحول ته راغلم، د دې پۀ برکت زما پۀ کردار او خبرو کښې مثبت بدلون راغلو، ما عمامه شريف هم پۀ سر کړه، د سُنّت مطابق مې ږيره مبارکه هم پريښودله او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د نـمونځونو پابندي مې هم شروع کړه-

آئیں گی سُنّتیں،جائیں گی شامتیں | مدنی ماحول میں کرلو تم اِعتکاف

تم سدھر جاؤ گے، پاؤ گے برکتیں | مدنی ماحول میں کر لو تم اِعتکاف

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ستاسو خپل دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي، دا وخت د اتياؤ [80] نه پهٔ زياتو شعبو کښې د دِين پهٔ خدمت کښې مصروف دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ❁ د كنزُ الـمدارس بورډ (***Kanzul Madrasah Board***) پهٔ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❁ پهٔ زرګونو جامعات او مدارسُ الـمدينه د هلكانو او جينكو ***(Boys & Girls)*** د پاره قائم دي، پهٔ كومو كښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم كورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات ***(Specialization)***، فرض علوم كورسز كولے شي ❁ د جامعات او مدارسُ الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز) د طالبِ علمانو شميره پهٔ لكونو كښې ده ❁ د زيات عمر اِسلامي ورونړو او خوئيندو ته د قرآنِ كريم تعليم وركولو د پاره پهٔ زرګونو مدارس الـمدينه بالغان او بالغات جوړ كړے شوي دي پهٔ كومو كښې چې د لوستونكو اِسلامي ورونړو او خوئيندو شميره پهٔ لكونو كښې ده ❁ د فيضان آن لائن اكيډمی ( ***Faizan Online Academy***) پهٔ ذريعه دِيني تعليم وركړے كيږي ❁ د دِيني او شرعي لارښودنې د پاره دار الافتاء اهلسنت جوړ كړے شوي دي ❁ د الـمدينةُ العلميه ***(Islamic Research Center)*** پهٔ ذريعه پهٔ ديني لټريچر باندې تحقيقي كار كيږي، ❁ د دِيني لټريچر د چاپ كولو د پاره چاپ كوونكې اداره الـمدينةُ العلميه جوړه كړے شوې ده ❁ پهٔ ټوله دُنيا كښې د دِيني كارونو كولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظيمي سيټ اپ دے، د ذيلي حلقے نه واخله د د مركزي مجلسِ شوریٰ پورې يو نظام جوړ دے، ښار پهٔ ښار، كلي پهٔ كلي ذمه داران موجود دي ❁ د عاشقانِ رسول پهٔ تربيت كولو هغوئي د دِيني كارونو د پاره ملك او بهر ملكونو ته ليږلے كيږي، هغوئي ته باقاعده تنخوا ګاني وركړے

کيږي او هغوئي فارِغ البَال (يعني د کټي وَتي نه پۀ بے پروا کيدو سره) د دِين خِدمت کوي ❁ د ميډيا پۀ مختلف پليټ فارمز باندې هم د دِين د خِدمت سلسله روانه ده ❁ پۀ پرنټ ميډيا (کښې د ډيرو کتابونو او رسالو سره سره د ماهنامه فيضانِ مدينه د چاپ کولو سلسله جاري ده کومه چې دا وخت د دُنيا پۀ 7 ژبو کښې د ټولو نه زياته چاپ کيدونکې ماهنامه ده) ❁ پۀ سوشل ميډيا (مثلاً، يوټيوب ***(YouTube)***، فيس بُک ***(Facebook)***، انسټا ګرام ***(Instagram)*** وغيره) باندې پۀ مجموعي توګه په لکونو فالورز (***Millions Followers***) دي او د ويوز شميره پۀ مجموعي توګه په لکونو (***Billions***) کښې ده ❁ د دې نه علاوه د مَدَني چينل، اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (***Kids***) مَدَني چينل، د مشرانو د پاره مَدَني چينل او د عربۍ د ويب چينل پۀ ذريعه د دِين اِسلام خدمت کولے شي۔

**تاسو هم د دِين د خِدمت پۀ دې کار کښې خپله حصه شامله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده يعني ډونيشن پۀ هرقِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خير ښيګړې، پۀ ښو او د امدن زياتولو پۀ جائز او محفوظ کارونو کښې لګيدے شي د پاره د دې چې زياتې شوې خرچې پرې پوره کړے شي۔**

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یااللہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## فيضانِ حديث موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا ډير فائده مند موبائل ايپلي کيشن پۀ نوم د "فيضانِ حديث" پۀ ***Play Store*** او ***App Store*** باندې وړاندې کړے شوے دے۔ پۀ دې ايپلي کيشن کښې تاسو د حديثِ پاک مشهور کتابونه مثلاً ❁ مِشْكٰوةُ الْمَصَابِيْح او د دې اسانه اُردو شرح مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح ❁ الأربَعِيْن

النّوويّة د اُردو ترجمې او شرحې سره ❀ رِیاضُ الصَّالِحِین د اُردو ترجمې او شرحې سره ❀ أَربَعِیْنِ حَنَفِیَّہ(اردو) ❀ او مُنْتَخَب اَحَادِیث (اُردو) شامل کړے شوي دي- ❀ د دې ایپلي کیشن پۀ مدد سره تاسو حدیثونه مبارک پۀ کتابي شکل کښې (یعني د جلدونو پۀ لحاظ سره) هم لوستلے شئ او د مختلفو موضوعاتو پۀ لحاظ سره هم د خپلې خوښې موضوع لوستلے شئ ❀ د سرچ آپشن [یعني د لټولو آپشن] پۀ مرسته حدیثونه مبارک لټولے هم شئ- ❀ پۀ دې کښې د حدیثِ پاک د عربی متن د اعراب سره او د اعراب نه بغیر، پۀ دواړه قِسم د کتلو سهولت کینبودے شوے دے ❀ د لوستلو د نوټس *Notes* محفوظ کولو د پاره د خوښې د حدیثونو د *Favorite* کولو آپشن هم ورکړے شوے دے ❀ د مختلف فاؤنټس *Fonts* او د حدیثونو د شیئر *Share* کولو سهولت هم ورکړے شوے دے-

هم نن پۀ خپل موبائل کښې دا ایپلي کیشن ډاؤن لوډ کړئ! پخپله هم د حدیثِ پاک فیضان حاصل کړئ! او نورو ته هم ترغیب ورکړئ!

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## پۀ رَجَب کښې لوستلے کیدونکې دُعا

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د رَجَب میاشت مبارکه میاشت روانه ده، د نبیانو د نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم انداز مبارک وو چې کله به د رَجَب میاشت تشریف راوړو نو دا دُعا به یې لوستله:

اَللّٰھُمَّ بَارِكْ لَنَا فِیْ رَجَبٍ وَّ شَعْبَانَ، وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ

ترجمه: اے الله پاکه! زمونږ د پاره پۀ رجب او پۀ شعبان کښې برکت واچوې او مونږ د رمضان پورې ورسوې- (1)

---

[1]... مُسْنَدِ بَزّار، جلد:13، صفحه:117، حدیث:6496۔

راځئ چې مونږ هم دا دُعا ولولو:

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْ رَجَبٍ وَّ شَعْبَانَ، وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په قافلو کښې د سَفَر کولو ترغيب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د خوش قِسمته اِسلامي ورونړو او نورو عاشقانِ رسول يوه شميره د ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح د کوشش د مقدسې جذبې لاندې سفر کوي- هسې خو دا ډير ګران کار دے خو ياد ساتئ چې د نيکئ دعوت ورکول او په دې لاره کښې سخته برداشت کول د انبيائے کرامو عليهم السلام سُنَّت دې ❀ انبيائے کرام عليهم السلام ❀ صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ❀ نيکان خلق به د نيکئ د عوت ورکولو د پاره د کورونو نه وتل ❀ لرو لرو علاقو ته به تلل ❀ هجرت به يې کولو او ❀ سخته به يې تيروله او د دِين پيغام به يې عام کولو ❀ د مخکښينو خلقو په قربانو باندې دا دِين مونږ ته رارسيدلے دے-

تاسو هم په مَدَني قافله کښې سفر کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډير برکتونه به مو نصيب شي ❀ په مَدَني قافله کښې فرض عِلمِ دِين ښودلے کيږي ❀ سُنَّت ښودلے کيږي ❀ د تهجدو کولو سعادت نصيب کيږي ❀ د نيکئ د دعوت عام کولو موقع ميلاويږي ❀ د قافلې په برکت سره د مُرادونو د پوره کيدو، ❀ د مشکلاتو لرې کيدو ❀ د بيمارو نه د شفا نصيب کيدو هم ډير واقعات دي ❀ داسې هم شوي دي چې په مَدَني قافله کښې د سفر کوونکو عاشقانِ رسول د ډاډګيرنې د پاره خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم فرمائيلے دے، په خوب کښې يې تشريف راوړے دے او په قافله کښې برخه اخستونکو له يې ديدار ورکړے دے-

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** يو څو ضروري اِعلانات واورئ! ❀ د هر خالي پۀ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ **مَدَني چينل** باندې **لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې خالي پۀ ورځ به هم پۀ مَدَني چينل باندې د ماسخوتن د نـمونځ نه پس(تقريباً 8 بجې) اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پۀ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❀

رمضان المبارک يوه مقدسه مياشت ده،په دې مياشت کښې مسلمانان د روژې نيولو په ذريعه د الله پاک حـکم پوره کوي او د الله پاک د رضا حاصلولو کوشش کوي،د دې مياشتې فضائل و اعمال او د روژې مسائل امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په ډير اسان انداز کښې ليکلي دي ، دکتاب نوم دے:**فيضان رمضان**، امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د رمضان دمياشت د راتلو نه مخکښې د دې کتاب د لوستلو ترغيب ورکوي ،پخپله يې هم ولولوئ او نور له هم ترغيب ورکړئ ،دا کتاب په 1000 روپے د مکتبۀ المدينه د هر شاخ نه حاصلولے شئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د بيان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به پهٔ جَنَّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## دعا کول د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَلدُّعَاءُ سِلَاحُ الْمُؤْمِنِ دعا د مؤمِن وَسله ده- (2)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دعا کول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ❀ زمونږه خوږ آقا، د دواړو جهانو داتا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ډيرې دعاګانې کولې ❀ بعضې مُحَدِّثينو د سرکارِ عالي وقار، د مکې مدينې د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو دعاګانو پهٔ باره کښې پوره پوره کتابونه هم ليکلي دي، مثلاً د ډوډۍ خوړلو دعا، د اوبو څښلو دعا، د اودهٔ کيدو دعا، د خوب نه د راپاڅيدو پهٔ وخت لوستلے کيدونکې دعا، د پئيو [شودو] د څښلو نه پس دعا، د جامو اغوستو دعا- غرض زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د امروزه کارونو نه مخکښې هم دعاګانې کولې ❀ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به دا دعا ډيره زياته کوله: (3)

---

1 ...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-
2 ...مسند ابي يعلى، جلد:2، صفحه:123، حديث:1812-
3 ...بخاري، کتاب:الدعوات، صفحه:1574، حديث:6389-

رَبَّنَآ اٰتِنَا فِی الدُّنۡیَا حَسَنَةً وَّ فِی الۡاٰخِرَةِ حَسَنَةً (پاره:2، سورۂ بقرة: 201)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: اے زمونږه ربه! مونږ ته پهٔ دُنيا كښې خير راكړې او مونږ ته پهٔ اخرت كښې (هُم) خير راكړې او مونږه د دوزخ د عذاب نه وساتې-

د سنتِ مصطفٰے د ادا كولو دپاره مونږ له هم د ډيرو دعاګانو غوښتلو عادت جوړول پكار دي-

د مختلفو سنتو زده كولو د پاره د مكـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده كولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو كښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر كول هم دے-

علم حاصل کر، جَہل زائل کرو پاؤ گے راحتیں، قافلے میں چلو
سنّتیں سیکھنے تین دِن کے لیے ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل كولو توفيق راعطا كړي-

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد